مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ
۲۰ /۰۳/ ۲۰۲۶

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(درېیمه برخه)

## پنجاب‌پلوه پښتانه ګل‌خانان: (ورکه دې شي وینځه چې د وینځې کالي مینځي)

که له یوې خوا پنجابیانو پښتانه په خپل‌منځي او د پاکستان لپاره په جګړو کې تباه کړل نو بلې خوا د پاکستان پنجابی پوځ په خپلو هوایي او ځمکنیو بریدونو کې په زرګونو لر او بر پښتانه، په ځانګړي توګه کوز پښتانه ووژلي، بندیان کړي، ورک کړي، سپک کړي او له خپلو کورونو یې په ډېرې بې‌عزتی سره ایستلي دي چې دا لړۍ لا همداسې روانه ده.
په دغو ترېتم شویو پښتنو کې د پښتون قوم مخور مشران، دیني پوهان او نور ډېر په دین او خپله خاوره مېین پښتانه، د پنجابي پوځ او د هغوي د مزدورانو تش په نوم پښتنو په مرسته له منځه وړل شوي دي، د دغو بې‌پښتو پښتنو، ماغزه د پنجابیانو لهخوا مینځل شوي او خپل پېژاند (هویت) او پښتونولي یې له لاسه ورکړي ده، نه پوهیږي چې ښه کوي که بد، پنجابي شېطانانو، ښه ورته بد کړي او بد یې ورته ښایسته کړي دي:
﴿وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ﴾
ژباړه:«شېطان د دوی کړنې د دوی لپاره ښایسته کړي او هغوی یې له لارې اړولي دي، له دې امله هغوی سمه لاره نه مومي.» (د نمل سورت: ۲۴)

دا ډول نااهله پښتانه، د پنجابیانو پلوي او غلامي کوي، له پښتنو سره په دښمنۍ کې ښکېل دي، دغه پښتوژبي پنجابیان، د رښتینو پښتنو لهخوا د **(ګل‌خانانو)** او **(ګل‌خان)** په نوم یادیږي.[1] دا داسې وګړي دي چې له خپل قوم څخه جلا، په غلطه لار روان او د خپل پدرې او تاریخي دښمن، **د انګرېز د غلامانو غلامي او خدمت کوي:(ورکه دې شي وینځه چې د وینځې کالي مینځي)**

حقیقت دا دی چې دا ډول د ځان دښمن پښتانه (ګل‌خانان) اوس‌مهال نه دي پیدا شوي، دا له ډېر پخوا، د پاکستان له جوړېدو راهیسې له پښتونولۍ څخه وتلي او د پردیو په غلامۍ او چوپړ کې لګیا وو چې له دغو ګل‌خانانو څخه یو هم د بابړې د شهیدانو له قاتلانو څخه، د خیبر پښتونخوا اعلی وزیر، **کشمیری پټان خان عبدالقیوم خان** په څېر پوچ‌مغزه پښتون هم وو، سربېره پر دې د پاکستان لومړنی، لومړی

[1]: د ګل خان نوم د کوزې پښتونخوا لیکوال شېر زمان فیضي له یو ناول څخه اخیستل شوی چې ګل خان نومی خپل مالک ته ډېره غوړه مالی او چپلوسي کوي او ډېر ورته وفادر وي.
ګل خان د پښتنو په معاصره سیاسي او ټولنیزه وینا کې یو استعاري (مجازي) نوم دی، چې د هغو کسانو لپاره کارول کیږي چې د خپلو ملي ګټو پر ځای د بهرنیو یا د پنجابي ریاست د ګټو لپاره کار کوي. دا اصطلاح تر ډېره د حقیقت نه ویونکو او د پښتونخوا د ورونو تر منځ د تفرقې اچوونکو لپاره د سپکاوي په توګه کارول کیږي. (Khyber News فېسبوک پاڼه)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

وزیر **لیاقت علي خان** هم ستر (ګلخان) ؤ چي د خپلي سپکي او ناولي ژبې له امله د یو لوی اتل پښتون، شهید سید اکبرخان ببرکـزي ځدراڼ له لاسه په رښا ورځ، نرپه‌ډګر جهنم ته ولېږل شو. (۱۹۵۱ز)
پېښه داسي وه چي کله د خوست د ځدرانو مشر غازي ببرک خان زامن، د نادري کورنۍ سره د اختلافاتو له کبله وزیرستان ته هجرت وکړ او د غازي ببرک خان مرحوم کشر زوی، اتل سید اکبر خان او نورو څو ورونو ته یې، انګرېزانو د انګرېزي هند په ایبټ آباد کې سیاسي پنا ورکړه.



سـيد اكبر خان ببركزى

د پاکستان له جوړېدو وروسته، لیاقت علي خان (چي د پنجاب د کرنال د پښتنو د نوابانو له کورنۍ څخه ؤ) د پاکستان لومړی وزیر او د مسلم لیګ ګوند عمومي منشي (جنرال سیکټري) وټاکل شو، نوموړی د افغانستان سخت دښمن ؤ ځکه چي د انګرېزانو لهخوا له آره د افغانستان پر خلاف روزل شوی ؤ او خپلي لوړي زده‌کړي یې (د محمد علي جناح په شان) په انګلستان کې کړي وې او د انګلستان د وکیلانو د اتحادیې غړی هم ؤ.
هغه وو چي د ۱۹۵۱ز. کال د اکتوبر په ۱۶مه نېټه، هغه مهال چي د پاکستان لومړي وزیر لیاقت علي خان د راولپنډۍ د کمپنۍ په باغ کې د مسلم لیګ یوې لویې غونډې ته وینا کوله نو د وینا پر مهال د اتل سید اکبر خان لهخوا د توپانچې په ډزو وویشتل شو او په خپله سزا ورسیده.
له بده مرغه چي اتل سید اکبر خان هم د پنجابي پولیسو لهخوا شهید کړای شو. سره له دې چي سید اکبر خان خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ خو نوم یې په تاریخ کې په ډېر ویاړ سره یادیږي.

**هغه ځـوان چي د وطن پـه درد دردیږي**
**که سل ځله پـر مخ لـویږي پـورتـه کـیږي**
**ما ترې سل ځـلـه قربان او صدقه کـړی**
**چي د مرګ پر پوله نـاست وي لاخوځیږي**[2]

لکه څرنګه چي په قرآن کریم کې شهید ژوندی بلل شوی دی، د شهید د ژوندي‌توب یو ثبوت دا دی چي په نړۍ کې به د تل لپاره په ویاړ او عزت سره یادیږي.
﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ﴾
ژباړه:«او هغوی ته مړه مه وایئ! چي د الله په لار کي ووژل شي، بلکي هغوی ژوندي دي خو تاسو نه پوهیږئ.» (د بقرې سورت: ۱۵۴ ایت)

---

[2]: ملي شاعر، مرحوم اکاډمیسین سلیمان لایق.
*: **د شهید سېد اکبر خان ببرکـزي ځدراڼ انځور، د ډاکټر عبدالرحمن زماني له لیکنې اخیستل شوی دی.**
https://af.dawatmedia24.com/?p=120416


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پنجابی پوځ له ډیورنډ کرښې دېخوا د خوست او پکتیکا په ولایتونو کې د وزیرستان د کډوالو پر پنډغالو بمبارۍ کوي او د ځايي پښتنو پر کوروونو، جوماتونو او ښاروونو باندې هوايي او راکټي بریدونه کوي، ګلخانان يې ستايي، چکچکي ورته وهي او ... .

د پنجابي پوځ او پولیسو لویه پستي او نه بښلکېدونکې ګناه دا دی چې په پاکستان کې هغه افغان کډوال چې د **(دفاع پاکستان)** لپاره لسیزې پخوا پاکستان تللي وو، اوس هماغه د پاکستان مدافعین، له پاکستان او پښتني سيمو څخه **په زور، جبر او ډېرې بېعزتی سره شړي، ښځې او ماشومان يې وهل ټکول کیږي، ښځې له ويښتانو نيسي په زور يې د پوليسو موټرو ته پورته کوي،** دا يوازې پنجابيان نه دي چې د پښتنو له ښځو سره داسې بېننګي کوي، له دغو پنجابيانو سره پښتانه بېننګه ګلخانان، مټېمټ ولاړ دي، هغه پښتون چې د پښتنو پر ننګ او ناموس غيرت نه کوي، لنګوهلی پنجابي ډېر شرف پرې لري... .

**ځيني څه لويي دعوې لرم په زړه کې**
**ولې څه کړم چې پښتون واړه بې ننګ دی**
**يا هغه پښتانه نور وو، دا څه نور شول**
**يا د خدای دی، دغه هسې شان فرمان**
(خوشال بابا)

د پښتوژبو ګلخانانو څو پرلهپسې نسلونه د انګرېزي او پنجابي استعمار د واک لاندې زیږیدلي او لوی شوي دي او د پاکستان په دولتي ادارو، په ځانګړي توګه په پوځ او پوليسو کې کار کوي، ځيني يې شعوري او ځيني نور يې د تنخوا اخيستلو لپاره دندې ترسره کوي.

هغه پښتانه چې د مجبورۍ او بېوزلي له امله د پاکستان په پوځي او امنيتي ارګانونو کې د معاش لپاره کار کوي، له افغان سرتېرو، ټيټيپي او نورو مجاهدينو سره دې له مخامخ کيدو څخه ډډه وکړي، نه دې ځانونه وژني او نه دې خپل پښتانه ورونه، خپلې دندې دې پرېږدي، که د پنجابي پوځ لهخوا ورته خطر پيښ شي نو افغانستان ته دې هجرت وکړي او خپل ژوند دې وژغوري او دې د پنجابي له نوم او غلامۍ څخه ځانونه خلاص کړي. په دې تړاو د لوی خوشال بابا وينا وړاندې کوم چې کله يې د مغلو له نوکرۍ لاس واخسيت نو بيا يې ځان پښتون وباله:

**د مغل منصب مي پرېښود هسې خوښ يم**
**لکه خلاص د لويه بنده بنديوان شي**
**چې پښتون شوم په دا هسې سپينه ږيره**
**نور مي خدای مه کړه مغول، وايم په ځيره**

افغان پوځيانو، ټيټيپي او نورو سرتېرو ته زموږ مشوره دا ده چې په جګړو کې دې د معاشاخيستونکو پښتنو له وژلو څخه په کلکه ډډه وکړي.

شوني ده چې ځيني شعوري ګلخانان هم د پنجابيانو له غلامي لاس واخلي او د خوشال بابا په څېر پښتانه شي، دوی چې ټول عمر په تيارو کې ساتل شوي دي چې له امله يې خپل تاريخ او خپل پلار نيکه نه پيژني، اړينه ده چې له دوی سره **د پښتونژغورني غورځنګ (پي ټي ايم)** په څېر تبليغاتي کار وشي چې له دې لارې دغه ويده او ناخبره پښتانه له خپل ځان او تاريخ څخه خبر شي خو بيا هم که د پنجاب له غلامۍ يې لاس وانهخيست او همداسې د جهالت پر خره سپاره وو، بيا به يې نو خپل ځان ته خوښه کړي وي ځکه چې **(په جګړه کې حلوا نه وېشل کيږي)** يا به وژل کيږي او يا به بل وژني خو د دغو نه اصلاحکېدونکو ګلخانانو ځای به جهنم وي، له دې امله چې د حربي کفارو (امريکايانو) او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پنجابي منافقانو په پلوۍ او ملګرتیا، د مسلمانانو او خپلو پښتنو ورونو پر وړاندې جګړه کوي. دا ډول خلک الله تعالَی د هماغو کفارو او منافقانو په ځېر بللي دي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ﴾

ژباړه:«ای مؤمنانو! یهودان او نصارا ملګري مه نیسئ، دوی خپلو کې ملګري دي او له تاسو څخه چې څوک هغوی خپل ملګري نیسي نو هغوی هم له هماغو څخه دي.» (د مایدې سورت:۵۱)

نېټه:۱۴۰۴/۱۲/۳۰ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اخڅر نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ